## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**15 سنبله_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب


| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د خپل سفر په لړ کې بدخشان ته لاړ | 1 |
| امتحان تعلمیات دینی از کارمندان وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان اخذ شد | 1 |
| د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د بدخشان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست لیدنه وکړه | 2 |
| سه تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید | 3 |
| میدانو وردګو کې ۱۴ کورنیو سره مرسته وشوه | 4 |
| یک باب مکتب و دو باب تعمیر محل اجتماع در ولایت کندز افتتاح و به بهره برداری سپرده شد | 5 |
| سرپل کې ۹۵ کورنیو سره مرسته وشوه | 6 |
| رییس مهاجرین ولایت لغمان، با نماینده های موسسه زنان برای زنان افغان ملاقات کرد | 7 |
| نشست کمیته ادغام مجدد ولایتی در ولایت بدخشان برگزارشد | 8 |
| انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدنه: په ۱۲ قربانیانو کې ۱۰ ښځې شاملې دي | 9 |
| آلمان په زولنګین کې تر برید وروسته د پناه غوښتنې قوانین څنګه سختوي؟ | 12 |
| په ډبلین قضیو کې د مرستو کمول | 13 |
| ایا د مرستو اندازه به صفر ته کمه شي؟ | 13 |
| د مالي مرستې د کمولو هدف څه دی؟ | 13 |
| د ډبلین مقرراتو تشریح | 14 |
| دیده بان حقوق بشر: لبنان و قبرس با کمک های اروپا حقوق بشری پناهجویان را نقض کرده اند | 14 |
| پولیس اروپا یک شبکه قاچاقبران انسان میان رومانیا و ایتالیا را دستگیر کرد | 17 |

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د خپل سفر په لړ کې بدخشان ته لاړ

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د خپل سفر په لړ بدخشان ته لاړ او د دغه ولایت له والي قاري محمد ایوب خالد یې سره وکتل.

په دې کتنه کې د دواړو لوریو ترمنځ د خدمتونو د وړاندې کولو، په دغه ولایت کې د مهاجرینو د راستنېدنې د بهیر او دوی ته د خدمتونو د وړاندې کولو په اړه خبرې وشوې.

ښاغلي راشد مهاجرینو ته د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د هغوی هڅې وستایلې او ډاډ یې ورکړ، چې له اړوندو ادارو سره په همغږۍ به د ستونزو د حل په برخه کې لازم اقدامات ترسره کړي.

## امتحان تعلیمات دینی از کارمندان وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان اخذ شد

ویب سایت وزارت



ریاست دعوت و ارشاد وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان روز چهارشنبه، **14** سنبله از صدها کارمند مرکزی این وزارت امتحان دروس دینی اخذ کرد.

در افتتاحیه این برنامه شیخ کلیم الرحمن فانی معین مالی و اداری وزارت و برخی دیگر از مسوولان این وزارت حضور داشته درباره ضرورت تعلمیات دینی برای مردم به ویژه به کارمندان ادارات دولتی صحبت کرد.

معین مالی و اداری وزارت از کارمندان خواست که از فرصت فراهم شده برای آموزش علوم اسلامی در این وزارت استفاده کنند او همچنین با قدردانی از کارمندان ریاست دعوت و ارشاد وزارت برای آنان آرزوی موفقیت نمود.

مولوی احمد الله احمدی رییس دعوت و ارشاد وزارت صحبت نموده از پابندی کارمندان به دروس عقیدتی و برابر نمودن سیرت و صورت شان مطابق سنت نبوی ستایش نموده و از شفافیت کامل این امتحان اطمینان داد.

بعدا پروسه امتحان با توزیع پارچه سئوالات رسما آغاز گردید.

گفتنی است که ریاست دعوت و ارشاد این امتحان را مطابق برنامهٔ تنظیم شده و نصاب تدریس شده، بعد از اطلاع دهی زمان اخذ امتحان به کارمندان راه اندازی کرد این ریاست پارچه های امتحان را جهت سهولت لازم به زبان های پشتو و دری تهیه کرده بود.

## د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د بدخشان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست لیدنه وکړه

د وزارت ویب سایت



د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستيال مولوي عبدالرحمن راشد بدخشان ولايت ته د خپل سفر په لړ کې د دغه ولايت د مهاجرينو چارو رياست وکاته او د دغه رياست له رييس او کارکوونکو سره يې وکتل.

مسلکي مرستيال وويل: له پاکستان څخه د افغانانو له جبري راستنېدنې سره اسلامی امارت وتوانيد، چې د افغانانو د راستنېدنې بهير په ښه توګه کابو او مديريت کړي او همدارنګه د طبيعي پېښو د اغېزو له امله چې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې خلک بې ځايه شوي دي د وزارت مشرتابه د ځلوېښت ساعتونو هڅې وکړې چې دې ته ورسيږي.

ښاغلي راشد زياته کړه: د هېواد شمالي ولايتونو ته د ده د سفر موخه د کارونو څېړنه، د ستونزو اورېدل او ورته ته رسېدل او د چين هېواد د مرستو لېږدول دي.

د بدخشان ولايت د مهاجرينو چارو رييس مولوي محمد يونس جهادمل د دغه وزارت مرستيال ته ښه راغلاست وwايه او د دغه وزارت د رهبرۍ د کارونو ستاينه يې وکړه.

هغه وويل: موږ تل هڅه کوو، چې خلکو ته په ښه توګه خدمتونه وړاندې کړو، د هغوی ستونزې هوارې کړو او د مرستو د ترلاسه کولو لپاره لا زياتې همکارۍ او همغږۍ ته چمتو يو.

## سه تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

ویب سایت وزارت



سه تفاهم نامه همکاری به ارزش 4 صدو 55 هزار و 405 دالر امریکایی و 11 میلیون 8صدو 77 هزار و 98 افغانی با موسسات اهداف پایدار در افغانستان، خیریه بشری و اتحادیه کمک در وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید .

به اساس تفاهم نامه های یاد شده موسسه خیریه بشری مبلغ 4 صدو 10 هزار و 405 دالر را دربخش ترمیم 16 باب شبکه آب در ولایات، تست کیفیت آب، کلورین نمودن 16منبع آب، توزیع 16 بسته ابزار تخنیکی، ترمیم 380 باب مبرز، و توزیع 2320 بسته حفظ الصحه برای 7 هزار و 575 خانواده در ولایات لغمان و ننگرهار به مصرف میرساند.

موسسه اتحادیه کمک مبلغ 11 میلیون 8 صدو 77 هزار و 98 افغانی را در بخش توزیع بسته های خوراکی و ارایه مشوره های تغذی و روانی برای 300 خانواده بیجاشده و برگشت کننده در ولایت جوزجان عرضه خدمات مینماید و موسسه اهداف پایدار در افغانستان مبلغ 45 هزار دالر امریکایی را در بخش ساختن فارم های مرغداری و توزیع مرغ و خوراکه آن در ولایت قندهار به مصرف میرساند که 55 خانواده بیجاشده و برگشت کننده از آن مستفید خواهد شد.

تفاهم نامه یاد شده توسط مولوی محمد جان خدر خیل سرپرست معینیت مسلکی و رییس دفتر مقام وزارت و نماینده های نهاد های یاد شده به امضا رسید.

## میدانو وردګو کې ۱۴ کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت




**په میدان وردگو ولایت کې د وړې پر دیارلسمه د طبیعي پېښو له امله ۱۴ زیانمنو شویو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه. دا مرسته د ډنمارک د مهاجرت شورا له لوري په درې برخو کې ۳۴ زره، ۳۳ زره او ۳ زره او ۵۰۰ افغانیو په ارزښت وه، چې هرې کورنۍ ته د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ادارې په څارنه ووېشل شوه.**

## یک باب مکتب و دو باب تعمیر محل اجتماع در ولایت کندز افتتاح و به بهره برداری سپرده شد

ویب سایت وزارت




**به اساس گزارش ریاست امور مهاجرین ولایت کندز، یک باب مکتب و دو باب تعمیر محل اجتماع واقع قریه جنت باغ ولسوالی آقتاش ولایت کندز، به تاریخ 13 سنبله با حضور نماینده های ادارات حکومتی، موسسات همکار و مردم محل افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.**

**مکتب متذکره دارای هشت صنف درسی و دو اطاق اداری بوده که به ارزش مجموعی(25047880 ) بیست و پنج میلیون چهل و هفت هزار و هشتصدو هشتاد افغانی و همچنان دو باب تعمیر محل اجتماع به ارزش مجموعی**

**(16843654 )شانزده میلیون هشتصدو چهل و سه هزار ششصدو پنجاه و چهار افغانی به کمک مالی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان توسط موسسه اکرو اعمارشده است.**

**همچنان روسا و مسؤلین که در برنامه افتتاحیه این پروژه ها اشتراک کرده بودند جهت حفظ و مراقبت پروژه های متذکره سخنرانی نموده و برای مردم تفهیم نمودند تا در قسمت حفظ و مراقبت آن نهایت تلاش نمایند.**

## سرپل کې ۹۵ کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



**په سرپل ولایت کې د زمري پر دیارلسمه له ۹۵ بېځایه شویو او مستحقو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه.**
**دا کورنۍ مخکې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ادارې له لوري د صیاد ولسوالی په جګ غور، یمچي او القاني قشلاق ولسوالۍ کې پېژندل شوې وې او هرې کورنۍ سره د اکتیډ موسسې له لوري د ۷ زره او ۹۷۰ افغانیو په ارزښت مرسته وشوه چې د مهاجرینو چارو آمریت په څارنه ورکړل شوه.**

## رییس مهاجرین ولایت لغمان، با نماینده های موسسه زنان برای زنان افغان ملاقات کرد

ویب سایت وزارت



**مولوی غلام الرحمن بلال، رییس مهاجرین و لایت لغمان با نماینده های موسسه زنان برای زنان افغان در دفتر کارش به تاریخ 13 سنبله دیدارکرد.**

**در آن نشست در موردکمک های اضطراری به خانواده های بیجاشده اخیر و سروی آن صحبت شد.**

**رئیس امور مهاجرین از آنان تشکر و قدردانی کرده و اطمینان داد که آماده هر گونه همکاری میباشد.**

## نشست کمیته ادغام مجدد ولایتی در ولایت بدخشان برگزارشد

ویب سایت وزارت



**نشست کمیته استقرار پایدار و ادغام مجدد ولایتی عودت کنندگان و بیجا شده گان در ولایت بدخشان بر ریاست**

**قاری محمد امین طیب معاون و سرپرست آن ولایت با حضور نماینده های ادارات ذیربط ملی و بین المللی بتاریخ 11 سنبله برگزارشد.**

**در آن نشست فیصله بعمل آمد که برای 184 فامیل متضرر سیلاب قرای دودگه ،بالاتشکان ودوآب ولسوالی تشکان از طریق دفتر اوچا سرپناه ساخته شود و همچنان هیأتی از جانب مقام ولایت موظف شد تا جهت دریافت زمین برای اسکان مجدد 39 فامیل متضرر سیلاب قریه رباط کتوبالا ولسوالی تگاب را که دفتر آقا خان بدوش دارد همکاری نماید.**

## انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدنه: په ۱۲ قربانیانو کې ۱۰ ښځې شاملې دي

مهاجرنیوز



**د بولونی سور مېر ځارنوال وايي چې انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتۍ ډوبيدو پېښه کې ۱۲ تنه مړه شوي دي چې لس ښځې پکې شاملې دي. د قربانیانو نیمايي برخه يې کم عمره کډوال دي. دا په ۲۰۲۴ کې انګلیس کانال کې تر ټولو خونړۍ پېښه ده.**

**د انګلیس کانال د ګري نې په دماغه کې د تېرې سه شنبې په ورځ (د ۲۰۲۴ د سپتمبر ۳) د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښې له امله ۱۲ تنه ووژل شول .د فرانسې د مستعفي حکومت د کورنیو چارو وزیر ژرالد دارمنن چې پرون شپه يې بولونی سور مېر ته سفر کړی و ویلي دي د دوو کسانو روغتیايي حالت وخیم دی.**

**بل پلو د بولونی سور مېر ځارنوال ګیرېک لو برا ویلي چې د کښتۍ سپرلي تر ډېره د اریتریا وګړي دي او د قربانیانو په ډله کې چې ماشومان هم پکې لیدل کېږي لس ښځې او دوه نارینه شامل دي.**

**د مانش او شمالي سمندر قومندانۍ په خبره، دغه بېړۍ چې تر ۶۰ زیات کډوال پکې سپاره ول د سه شنبې په سهار د امبلتوز له ساحل څخه چې د بولونی سور مېر په ۱۰ کیلومترۍ کې موقعیت لري د برېتانیا پر لور روانه شوه او له غرمې مخکې د ګري نې په دماغه کې له ستونزې سره مخ شوه. ژرالد دارمنن ویلي دي چې «له ۸ څخه کمو کسانو د ژغورنې واسکټونه درلودل».**

**دغه کښتۍ چې شاوخوا ۷ متره اوږدوالی يې درلود د مهاجرو د وزن له امله ډوبه شوه. یوه کب نیوونکي د له وا دو نور ورځپاڼې ته ویلي دي چې یوازې د کښتۍ یوه کوچنۍ برخه د اوبو پر سر لیدل کېدله او پاتې برخې يې سمندر کې ډوبې شوې وې.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

له دې غمیزې وروسته چورلکو، ژغورونکو کښتیو او نظامي بېړیو د احتمالي کډوالو د لټون په موخه یاد سمندر کې پراخ عملیات پیل کړل.



پورټل بندر کې نظامي روغتیایي ډلې. انځور: رویټرز

په داسې حال کې چې د مینک په نوم ژغورونکې کښتی د کډوالو په ژغورلو بوخته وه، کب نیوونکو له اوبو څخه څلور جسدونه وایستل. یوه کب نیوونکي له وا دو نور ورځپاڼې ته ویلي دي چې یوه کډواله یې له اوبو څخه ایستلې چې عمر یې د ۱۵ او ۲۰ کلونو ترمنځ و .نوموړي ویلي دي چې د یادې کډوالې ته «له وقفې پرته زنګونه راغلل». ورځپاڼه زیاتوي چې یوه کب نیوونکي د جسدونو د ایستلو پر مهال ژاړل. یو بل کب نیوونکي ورځپاڼې ته ویلي دي چې د پاتو جسدونو د موندلو لپاره یې یو ساعت په سمندر کې تېر کړی. هغه زیاته کړې ده: «دغه تصویرونه به هېڅکله هم هېر نه کړو. هغه کسان چې موږ له سمندر وایستل تنکي ځوانان وو«...

تر ټولو خونړی کال

که څه هم تر اوسه په دې په ټراو څوک نه دي نیول شوي، خو چارواکو ویلي دي چې د غیرقصدي وژنې په ټراو یې جنایي دوسیه پرانیستې ده.

دا په ۲۰۲۴ کې انګلیس کانال کې د کډوالو لپاره تر ټولو خونړې پېښه ده. سږ کال تر دې دمه ۳۷ کډوال د برېټانیا او فرانسې ترمنځ اوبو کې ډوب شوي دي. په ۲۰۲۳ کې ۱۲ تنه خو په ۲۰۲۱ کې بیا ۳۰ تنه یاد کانال کې مړه شوي وو.



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook*: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**د فرانسې د کورنیو چارو وزیر ژرالد دارمنن د قربانیانو له کورنیو سره همدردي څرګنده کړه او د کډوالو د سمندري سفرونو د مخنیوي لپاره له برېتانیا سره د کډوالۍ د نوي تړون د لاسلیک غوښتونکی شو. لندن د دغو مهاجرو پر ډوبېدو ژوره خواشیني ښودلې او دا یې یوه غمیزه بللې ده.**

**خو د بشري حقونو سازمانونه بیا د فرانسې او برېتانیا پر هغو سیاستونو نیوکه کوي چې موخه یې د کډوالو د سفرونو مخنیوی ښودل شوی دی. د یوتوپیا ۵۶ سازمان غړې شارلوت کوانتس د فرانسې خبري اژانس ته ویلي دي چې دغه پالیسی «بلکل ناموثره دي ...او د پېښو او غمیزو سبب ګرځي».**

## آلمان په زولنګین کې تر برید وروسته د پناه غوښتنې قوانین څنګه سختوي؟

مهاجرنیوز




**د آلمان حکومت د دغه هیواد په زولنګین ښار کې د چړې تر برید وروسته د پناه غوښتنې قوانین سختول غواړي. دا چې کوم تدابیر نیول کېږي، دلته یې لوستلای شئ:**

**د آلمان حکومت د پناه غوښتنې او مهاجرت په قوانینو کې د بدلونونو لپاره هڅې کوي، دا هڅې د اصلاحاتو غوښتنو په تعقیب پیل شوي دي. دا د زولنګین په ښار کې د یو رد شوي پناه غوښتونکي لخوا د وروستي برید پس ترسره کېږي چې په کې درې کسان ووژل شول. نوې وړاندیز شوې تدابیر څه دي؟**

آلمان حکومت غواړي یو لړ تدابیر ونیسي چې په راتلونکي کې ممکنه بریدونه چې ممکن بهرني اتباع چې د پناه غوښتنې د نه منل کېدو او ناراضه کېدو یا افراطیت له کبله کوي، مخنیوی وکړي.

دا وروسته له هغې راځي چې په لویدیځ آلمان کې په زولنګین کې یو مرګوني چاقو برید ترسره شو، چې پکښې درې کسان د سوریې د یو ۲۶ کلن رد شوي پناه غوښتونکي لخوا وژل شول.

د آلمان صدراعظم اولاف شولز وویل چې چارواکي باید د زولنګین له برید څخه زده کړه وکړي. هلته یو سړي درې کسان ووژل او اته نور یې ټپیان کړل. بریدګر له سوریې څخه راغلی و. هغه په ۲۰۲۲ کال کې آلمان ته سفر وکړ. هغه ترهګره ډله چې د "اسلامي دولت" په نوم پیژندل کیږي ادعا کوي چې سړي د دوی په استازیتوب برید ترسره کړی.

په پنجشنبه (د اګست ۲۹) د آلمان حکومت مخکښو سیاستوالو د امنیتي تدابیرو یوه بسته اعلان کړه. تر ټولو مهمه فیصله یې دا وه چې ځینې پناه غوښتونکي به نور ټولنیزې مرستې په بشپړ ډول ترلاسه نه کړي، پداسې حال کې چې ایستل به په چټکه توګه ترسره شي.

په ډبلین قضیو کې د مرستو کمول

دا چې په زولنګین کې بریدګر یو رد شوی پناه غوښتونکی و چې باید اخراج شوی وای، نو اوس مهال تمرکز په ورته قضیو باندې دی.

متهم تیر کال باید د ډبلین مقرراتو په نوم د اروپایي اتحادیې د قوانینو له مخې بیرته بلغاریا ته استول شوی وای. د فیصله شوي اخراج د نه ترسره کولو له امله، درې کسان ووژل شول.

د پایلې په توګه، حکومت اوس یوه لانجمنه پریکړه کړې ده، چې معنی یې دا ده چې هغه څوک چې په لومړي ځل په بل اروپایي اتحادیه هیواد کې ثبت شوي وي، که په آلمان کې پاتې شي او که هغه هیواد موافق وي چې دوی بیرته تر ډبلین مقرراتو لاندې ومني، نو ټولې مالي مرستې به یې پرې شي.

ایا د مرستو اندازه به صفر ته کمه شي؟

د کورنیو چارو وزیرې نانسي فیزر (سوسیال دموکراته) په وینا، یوازې د وتلو لپاره به بودیجه ډبلین قضیو ته چمتو شي. په وینا یې، دا ځکه چې په بل اروپایي اتحادیه هیواد کې د اغیزمنو کسانو پالنه یقیني شوې ده. خو هغې ټینګار وکړ چې تر وتلو پورې به استوګنه او خواړه برابر شي، او په آلمان کې، "هیڅوک به د لوږې له امله ونه مري یا په سړکونو کې ویده نشي." د حکومت د پریکړې پاڼه وایي: "موږ د ټولو اغیزمنو کسانو انساني درملنه تضمینوو".

د مالي مرستې د کمولو هدف څه دی؟

د آلمان د فدرالي عدلیې وزیر مارکو بوشمن په وینا، د داسې ټولنیزو مرستو لغوه کول به په هغو کسانو فشار راولي چې د ډبلین مقرراتو له مخې د هیواد پریښودو ته اړ دي چې په حقیقت کې عمل وکړي، ځکه چې دوی به نور نغدي پیسې نه ترلاسه کوي - پرته له خوړو او استوګنځي.

د مثال په توګه، که یو پناه غوښتونکی لومړی یونان ته رسیدلی وي او هلته ثبت شوی وي خو وروسته آلمان ته راشي او پاتې شي، سره له دې چې د ډبلین مقرراتو له مخې بیرته یونان ته د ستنیدو امر ورکړل شوی، نو دوی به نور هیڅ مالي مرسته ترلاسه نکړي.

د کډوالو د حقونو سازمانونو دمخه ویلي دي چې دا به د منلو وړ نه وي؛ د کډوالو سازمان پرو ازیول وویل چې "تولنیزې مرستې باید د اټکل شوي مخنیوي اغیز لپاره نه قطع او نه په خپله خوښه کمې شي".

په ورته وخت کې، د زرغون گوند چې د حکومت په ائتلاف کې دی، هم په دې پلان باندې خپلې اندیښنې څرګندې کړې او ویلي یې دي چې دا به د فدرالي اساسي محکمې لخوا تصویب شي.

د کورنیو چارو وزیرې نانسي فیزر په وینا، باید هیڅ قانوني ننګونه ونشي، ځکه چې په داسې سناریو کې به په بل د اروپایي اتحادیې غړي هیواد کې د هغه کسانو د پاملرنې او ښه والي تضمین وشي.

خو په تېرو وختونو کې، د فدرالي اساسي محکمې فیصلو په هغو قضیو کې چې د هغوی مالي مرستې پورې اړه لري، په عمومي توګه د کډوالو او پناه غوښتونکو ملاتړ کړی دی.

د ډبلین مقرراتو تشریح

د ډبلین مقررات ټاکي چې ټول پناه غوښتونکي باید د اروپایي اتحادیې په هغه غړي هیواد کې د محافظت لپاره غوښتنلیک وړاندې کړي چې دوی لومړی ورغلي وي.

که دوی لا نور سفر وکړي او په بل ځای کې بله ادعا او د پناه غوښتنه وړاندې کړي، نو دا ادعا بې اعتباره کیدی شي. خو د بېرته لیږد او د لومړي هیواد لخوا د دغو مهاجرو د منلو لپاره موده ټاکل شوې ده. که په دغه معیه موده کې اړوند مهاجر بېرته نه ولیږدول شي، نو بیا یې لومړی هیواد د بېرته اخیستلو مکلفیت نه لري.

خو ډېر پناه غوښتونکي په دې کې بریالي شوي چې د کافي مودې لپاره بیرته لومړي اروپایي اتحادیه هیواد ته ستنیدو څخه ځان وساتي ترڅو هغه هیواد چې دوی پکې دي قانوني توګه د دوی قضیه په غاړه واخیستل شي.

د ډبلین مقرراتو د اصلاح لپاره هڅې شوي دي، خو په ټوله اروپایي اتحادیه کې د مهاجرت د قوانینو د دې اړخ د عصري کولو په اړه اجماع نشته.

د پناه غوښتنې د قوانینو د بدلونونو سربیره، نور تدابیر هم په پام کې دي.

د بیلګې په توګه، په عامه جشنونو او نورو لویو غونډو کې د چاقو پر بندیز باندې احتمالاً د تکرار د مخنیوي لپاره غور کیږي چې د اګست په میاشت کې په زولنګین کې رامنځته شوي وو.

سربیره پردې، هغه کسان به په چټکه له آلمان څخه اخراجیږي چې له اروپایي اتحادیې څخه دباندې هیوادونو ته په اخراج مکلف دی. خو په دې وخت کې روښانه نه ده چې کومې لارې به د چټکو شړلو د تضمین لپاره معرفي شي.

همدارنګه، د کډوالو لخوا کورنۍ لیدنې په پالیسي کې به هم نږدې ځارنه وشي. کډوال به خپل خونديي وضعیت له لاسه ورکړي که چیرې دوی خپلو هیوادونو ته سفر وکړي، پرته له مهمو دلایلو، لکه د کورنۍ د غړي په جنازه کې ګډون. خو د اوکراین کډوال به له دې قانون څخه مستثنی وي.

## دیده بان حقوق بشر: لبنان و قبرس با کمک های اروپا حقوق بشری پناهجویان را نقض کرده اند

مهاجرنیوز




به گزارش سازمان جهانی دیده بان حقوق بشر، در لبنان از کمک های اتحادیه اروپا که برای مدیریت مهاجرت به این کشور داده شده است، برای تمویل اقداماتی استفاده می شود که در مغایرت با حقوق بشر هستند .

در این گزارش که روز چهارشنبه نشر شد، آمده است، مقام های قبرس که سیاست مهار مهاجرت را تعقیب می کنند، پناهجویان سوریایی را به لبنان به عقب رانده اند و آژانس های امنیتی لبنان آن ها را اخراج کرده اند.

این گزارش براساس مصاحبه با ۱۶ سوریایی نوشته شده است که سعی داشتند لبنان را با قایق های قاچاقبران ترک کنند. در این گزارش آمده است که »حقوق بشری ۱۵ تن از آن ها به دست ماموران لبنانی یا قبرسی نقض شده است.»

در همین زمینه
قبرس: مهاجران گیر مانده در منطقه حایل احساس می‌کنند «زندانی» هستند

گروه های حقوق بشر بارها از تاکتیک های مقام های لبنان و قبرس در برخورد با مهاجران و پناهجویان انتقاد کرده اند.

واکنش قبرس و لبنان: ظرفیت پذیرش شمار بیشتری را نداریم

مقام های رسمی هر دو کشور می گویند که هیچگاه قانون را نقض نکرده اند. اما مهاجرت به حدی افزایش یافته است که آن ها دیگر از عهده مدیریت آن بر نمی آیند.

لبنان که از سال ۲۰۱۹ درگیر یک بحران مالی جدی است، میزبان حدود ۷۷۵ هزار پناهجوی سوریایی و صدها هزار پناهجوی دیگر است که به صورت رسمی ثبت نشده اند. به این ترتیب لبنان نسبت به جمعیتش بالاترین شمار پناهجویان را در سراسر دنیا دارد.

مقام های سیاسی لبنان به کشورهای غربی برای اسکان مجدد پناهجویان و یا کمک به بازگرداندن داوطلبانه یا غیرداوطلبانه آن ها فشار آورده اند. درعین زمان لبنان برای توقف مهاجرت، توافقی را با قبرس به امضا رسانده است و کمک های مالی قابل توجهی را از اتحادیه اروپا و کشورهای اروپایی برای کنترول مرزی دریافت کرده است.

به گفته دیده بان حقوق بشر، در برخی از موارد پناهجویان که سعی داشتند قبرس را از طریق بحر ترک کنند و به دست اردوی لبنان افتاده اند، به مرز لبنان و سوریه رانده شده اند و در خاک سوریه به حال خود رها شده اند.




عکس :ارشیف/گروهی از مهاجران در شهر پارالیمینی در قبرس در انتظار انتقال به مرکز پذیرش هستند. در این هفته جزیره قبرس شاهد سرازیری صدها پناهجو از سوریه بوده است که به گفته مقام ها از سواحل لبنان آمده اند./عکس از :

همچنین ادعا می شود که برخی از این پناهجویان توسط اردوی سوریه بازداشت شدند. در حالی که قاچاقبران از دیگران برای بازگرداندن آن ها به لبنان پول زیادی را طلب کرده اند.

در این میان، قبرس در ماه اپریل روند رسیدگی به درخواست های پناهندگی مهاجران سوریایی را به حالت تعلیق درآورد. دیده بان حقوق بشر مقام های قبرسی را متهم کرد که قایق های پناهجویان از لبنان را به اجبار بازمی گردانند.

براساس گزارش این سازمان بین المللی، در برخی موارد مقام های قبرسی از پیاده شدن پناهجویان جلوگیری کرده اند و در موارد دیگر پناهجویان توانسته اند خود را به ساحل برسانند، اما «به آن ها فرصت ارائه درخواست پناهندگی داده نشده است». بلکه این پناهجویان بازداشت شده و پس از بازگردانده شدن به لبنان به سوریه اخراج شده اند.

دیده بان حقوق بشر گفت: «هم مقام های لبنانی و هم مقام های قبرسی در زمان بازداشت و در طول اخراج بیش از اندازه از جبر و زور استفاده کرده اند.«

کمک های مالی اتحادیه اروپا به لبنان برای جلوگیری از مهاجرت غیرقانونی

در ادامه گزارش دیده بان حقوق بشر آمده است، اتحادیه اروپا و کشورهای اروپایی از سال های ۲۰۲۰ تا ۲۰۲۳ به لبنان برای مدیریت مرزی ۱۶/۷ میلیون یورو (۱۸/۵ میلیون دالر) داده اند که این کمک »عمدتا به شکل پروژه های ایجاد ظرفیت به خصوص به هدف تقویت توانایی لبنان برای جلوگیری از مهاجرت غیرقانونی» بوده است.

براین اساس، در ماه اگست اتحادیه اروپا ۳۲ میلیون یوروی دیگر (۳۵/۳ میلیون دالر) به لبنان داد که این اقدام به هدف «ادامه تقویت پروژه های مدیریت مرزی در لبنان تا سال ۲۰۲۵ «انجام شده است.

معاونت وزارت مهاجرت و محافظت بین المللی در قبرس با نشر یک بیانیه هرگونه استفاده از روش موسوم به پوش بک (به عقب راندن اجباری) را رد کرد و گفت، قبرس یک «کشور کوچک در خط مقدم جبهه است» که «در سال های گذشته با سرازیری شدید مهاجران روبرو بوده است .«در ادامه این بیانیه آمده است: «ظرفیت کشور برای میزبانی شمار بیشتری از مهاجران به پایان رسیده است. بنا براین ما می خواهیم بین تعهدات قانونی مان و آن چه که در واقعیت رخ جریان دارد، توازن برقرار کنیم.«

آژانس امنیت عمومی لبنان به دیده بان حقوق بشر گفت که بین ۱ جنوری سال ۲۰۲۲ و ۱ اگست سال روان، ۱ هزار و ۳۸۸ هزار تن به شمول ۸۲۱ سوریایی را در ۱۵ قایق ثبت کرده است. آن ها در حالی بازداشت شدند که سعی داشتند لبنان را ترک کنند.

آژانس امنیت عمومی براین تاکید کرد که هرکدام از موارد اخراج »که با آگاهی و تایید آن انجام شده است، در مطابقت با معیارهای بین المللی قوانین حقوق بشر بوده است.«

بئاته گمیندر، از مقام های بلندپایه کمیسیون اروپا در زمینه مسائل داخلی و مهاجرت در واکنش به این گزارش گفت که کمیسیون «ادعاهای نقض قوانین را بسیار جدی می گیرد» اما این نهادهای ملی هستند که «باید راجع به اتهامات نقض موازین حقوق بشر تحقیق کنند.«

## پولیس اروپا یک شبکه قاچاقبران انسان میان رومانیا و ایتالیا را دستگیر کرد

مهاجرنیوز




**پولیس اروپا یا یوروپول می‌گوید که یک شبکه قاچاق انسان را در رومانیا دستگیر کرده است .شبکه از جنوری ۲۰۲۳ در قاچاق حدود ۷۳۰ پناهجو از رومانیا به ایتالیا دست داشته است.**

**مقامات اروپایی می‌گویند که در دوم سپتمبر طی یک عملیات گسترده در رومانیا، گروه بزرگی از قاچاقبران انسان را که در حال انتقال مهاجران از این کشور جنوب غربی اروپا به ایتالیا بودند، دستگیر کردند.**

**یوروپول در خبرنامه‌ای روز سه شنبه ۳ سپتمبر اعلام کرد که ۱۹ نفر از اعضای این گروه دستگیر شده‌اند. این آژانس اعلام کرد که قاچاقبران دستگیر شده از جنوری ۲۰۲۳ تاکنون ۷۲۶ پناهجو را از رومانیا به ایتالیا منتقل کرده‌اند.**

**در عملیات دستگیر شبکه پولیس مجارستان، ایتالیا، رومانیا و اسلوانیا شرکت داشتند.**

**در خبرنامه همچنین گفته شده که قاچاقبران در بدل سفر غیرقانونی، از هر مهاجر تا ۳۰۰۰ یورو دریافت می‌کردند.**

**در همین زمینه**
**پولیس بلغاریا و رومانیا یک گروه بزرگ قاچاقبران را دستگیر کرد**

**»پنهان کردن مهاجران در میان اموال«**

**در جریان بازرسی از ۴۰ محل متعلق به شبکه، یک کامیون، پنج موتر یک موترسیکل، 52تیلفون همراه، یک تبلت و دو کمپیوتر به دست پولیس افتاد. در این عملیات حدود ۱۵ هزار یورو پول نقد نیز به دست آمده است.**

**یوروپول نوشته که افراد متهم «مهاجران را در میان اموال مخفی و به امنیت آنها بی توجهی کرده‌اند».**

**از میان دستگیرشدگان، پنج نفر که تابعیت رومانیایی دارند به سازماندهی فعالیت های لوژستیکی و مجرمانه متهم شده‌اند. بقیه متهم به استخدام رانندگان و قرار دادن مهاجران در «خانه‌های امن» هستند. مقامات همچنین گفته‌اند که دو کمپ پناهجویان را در ایتالیا پیدا کرده‌اند که در آن مهاجران غیرقانونی نگهداری می‌شدند.**

**بر اساس تحقیقات پولیس، قاچاقبران بیشتر اتباع بنگلادش، هند، نیپال یا پاکستان را با ویزای کوتاه مدت ابتدا به رومانیا و سپس از طریق مجارستان و اسلوانیا به ایتالیا منتقل می‌کردند.**